دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

الهی فرمان

ای مؤمنانو! پر تاسو روژې فرض کړي شوي دي لکه چې له تاسونه پرمخکنيو امتونو فرض کړې شوي وه تر څو پرهیزگاران شئ. د روژې ورځې په شمار دي، هر څوک چې له تاسونه په دغو ورځو کې ناروغ شي او یا په سفر کې وي نو په نورو ورځو کې دې دغه پاتې روژې ونیسي. (سورة البقره)

نبوي ارشاد

له حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
روژه او قرآن کریم د قیامت په ورځ د بنده لپاره شفاعت کوي، روژه خپل رب ته وایي: ای ربه! بیشکه ما دغه روژه نیوونکی توله ورځ له خوراک څښاک او دده د نورو خوښي څيزونو څخه منع کری و، نو ددې په حق کې زما شفاعت ومنه، قرآن کریم خپل رب ته وایي: ای ربه! ما دې د شپې له خوبه بند کړی و تر څو تهجد لمونځونه وکړي او قرآن کریم ولولي نو دده په حق کې زما شفاعت ومنه. نو الله تعالی ددوی دواړو شفاعت پخپل دربار کې مني. (مشکواة)

شهادت دویم کال، ۷۱ مه گڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د زمرې ۲۷ مه د۱۴۳۱ هـ ق د رمضان المبارک ۸ مه د۲۰۱۰ م د آگست ۱۸ مه

جنگ افغانستان با وضعیت نامعلوم

امریکا، رسانه ها:
از جنگ افغانستان و سال می گذرد، ولی وضع این جنگ تا هنوز هم برای یک تعداد از تحلیل گران و مردم امریکا نا معلوم است.
هرچند در اسناد سری نظامی امریکا که توسط صفحه انترنتی ویکی لیکس اخیراً افشا شد، وضع جنگ در افغانستان تا حدی با نشیب و فراز آن روشن شده است، اما بازهم معلوماتی که در این اسناد موجود است در مورد امروز صحبت نمی کند، بلکه آخرین سند آن به سال ۲۰۰۹ تعلق دارد، در حالی که مردم می خواهند هر لحظه در بارهء جنگ افغانستان معلومات تازه و شفاف داشته باشند....

بقیه در صفحه ۴

د ملکي تلفاتو خبر نه دي باصلاحیته کمیسیون وکړي "طالبان"

PROPERTY OF ACKU

تاند:
د طالبانو تحریک په افغانستان کې د ملکي مرګ ژوبلو په باب د حقایقو د سپیناوي لپاره د اسلامي کنفرانس، ملګروملتو، بشري حقونو،په افغانستان کې مېشتونړیوالو ځواکونو اوطالبانود استازو په ګډون د یوه باصلاحیته کمیسون د جوړېدو وړاندیز وکړ.
د طالبانو له لوري په یوه خپره شوې اعلامیه کې ویل شوي چې دې کمیسون ته دې د افغانستان په ټولو برخو کې د ملکي تلفاتوپه اړه د بشپړو او دقیقو تحقیقاتو د کولو لپاره وخت ورکړای شي چې ټولو اغېزمن شویو سیمو ته لاړ شي او اغېزمن شوي افغانان له نژدې ووینې، د ټولو پېښو په اړه دقیق جزییات ټول او په بې پرې ډول یې اعلان کړي.
د طالبانو دا غوښتنه په ،چې د افغانستان حکومت یې پکې یو مخ له نظره غورځولی ، نړیوال په دې خاطر هم ونه مني چې طالبان به په دې ډول رسمیت او مشروعیت ترلاسه کړي.
خو طالبان وایي : "که چیرې د ملګروملتونو سازمان او نورې نړیوالې ادارې د یوې بې طرفه او رښتیني څېړنې د ترسره کولو لپاره د اسلامي امارت دغه وړاندیزته هم اعتناء نه کوي نودابه دامعنا ولري چې یا دا سازمانونه د ملکي افغانانو لپاره هیڅ بشري حق هم په رسمیت نه پېژني او نه یې د حال اخیستلو نیت لري او له بیابیا خپرېدونکو غیرواقعي راپوروتو څخه یوازې د لویواوتمویلونکوقوتونوپه پلوی تبلیغاتي ګټه اخیستل کیږي اوپه لوی لاس دافغانستان مظلوم ولس نورهم داورسوزونکي بټۍ ته ور ټیل وهل کیږي اوقاتیلینوته یې لازیات جرات ورکول کیږي .که

پاتې ٤ مخ

آغا خان د کابل پوهنتون د استادانو استوګنځي ورانوي

د کابل حکومت د ولسمشر کرزی په لاسلیک د کابل پوهنتون د استادانو استوګنځي په آغاخان پلورلي چې هلته د خپلو دپلوماتیکو چارو او د روغتون لپاره ودانی جوړه کړي، دا هم ویل کېږي چې دلته به اغا خان کمپلېکس جوړوي.
دا چې ایا په دې کچه له اغاخان سره اړیکي درلودل په کار دي چې هغه دې سفارت ولري او یا دا چې دغه ځمکه یې په کومو شرایطو او څه ډول پلورلي، هغو ته نه تم کېږو، بلکې دلته دې ته نظر کوو چې دغه کار تر کومه بریده معقول، د عامه المنفعه تاسیساتو په ګټه او له ملي ګټو سره سمون لري، ځومره په کې د فساد او اختلاس شته او څوک په کې ښکېل ګڼل کېدی شي.
تر دې مخکې په دارالامان سیمه کې د کابل موزیم ختیز لوري ته د کابل پوهنتون د زراعت پوهنځي جایداد هم پلورل شوی او هغه افغان امریکایي پوهنتون ته ورکړل شوی دی. په دې اړه چا غږ پورته نه کړ، معامله غلې ترسره شوه، دا چې په کومو شرایط او څه ډول دغه جایداد پلورل شوی دی؟ او په راتلونکي کې د کابل پوهنتون د پراختیا او غوړېدا په صورت کې په راتلونکي نسل له کومو ستونزو سره مخ وي هغه پوښتنه ده چې اوسني چارواکي یې له ځانه هڅو پوښتنه نه کوي دا پوښتنه یې ذهن ته نه ورځي چې پوهنتون خو په راتلونکي کې جایداد ته اړتیا لري، نو بیا به یې له کومه کوي؟
اوس دا دي د کابل پوهنتون د استادانو استوګنځي پر آغا خان پلورل شوي چې دغه استوګنځي وران کړي او پر ځای یې خپله سفارتخانه او روغتون جوړ کړي.
که د دغه کار مخه و نه نیول شي او دغه جایداد بېرته کابل پوهنتون ته را و نه ګرځول شي نو لرې نه ده چې د موجود فساد،

پاتې ٤ مخ

د امن د راوستو یواځینی نسخه

دریم مخ

هغه وخت راغلی چې لویدیځ پرخپلې افغان ستراتیژۍ بیا کتنه وکړي "احمدرشید"

دویم مخ

طالبان خپله جګړه له پاکستانه رهبري کوي "پیتریوس"

تاند ویب پاڼه:
په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال دیوېډ پیتریوس د طالبانو د مشرانود پخلاینې احتمال رد کړ او ویې ویل داسي نه ښکاري چې ملا عمردې د افغانستان اساسي قانون ومني او پر هغه دې د لوړې لپاره لاس کښېږدي .
پیتریوس چې له این بي سي تلویزیون سره خبرې کولې په عین حال کې وویل : "هر شی ممکن دي، فکر کوم چې د ټېټې کچې طالبان به روغه ومني او ځینې مشران به هم راجلا شي او پخلاینې ته به حاضر شي. "
جنرال پیتریوس تر یوه کال کمه موده لري چې باید په ترڅ کې یې د افغانستان د جګړې تولله بدله کړي.
د نړیوالو ځواکونو عمومي قوماندان همداراز د طالبانو د کمزورتیاوو یادونه وکړه او ویې ویل چې طالبان هم یولاس او مضبوط نه دي او نه هم د یو بل اطاعت کوي....

پاتې ٤ مخ

امریکا د خصوصي امنیتي کمپنیو د منحل کولو د پلان ملاتړ کوي

تاند:
د امریکا پوځ وایي چې د خصوصي امنیتي کمپنیود منحل کولو په باب د افغانستان د ولسمشرحامد کرزي د پلان ملاتړ کوي او د دې پرېکړې تر عملي کېدو پورې پر خپلوقراردادي کمپنیو څارنه زیاتوي.
د افغانستان ولسمشرحامد کرزي تېره اوونی په داسي حال کې د شخصي امنیتي کمپنیو د منحل کېدو غوښتنه وکړه او هغه یې د بې ثباتۍ او ګډوډۍ سبب وبللې چې اکثره دا ډول کمپنۍ د ولسمشراو د هغه د جګپوړو وزیرانو د کورنیو په غړیو پورې تړلې دي....

پاتې ٤ مخ

USAID از دیر زمان بدین سو به فساد اداری و عدم شفافیت متهم است

امریکا، رسانه ها:
یکی از نظر سنجی های سازمان ملل متحد نشان می دهد که ۵۲ درصد افغان ها به این باور اند که سازمان های کمک رسانی خارجي که در افغانستان فعالیت دارند با فساد اداری آغشته اند و کارمندان آنها فقط به خاطر ثروتمند شدن به این کشور می آیند.
این موضوع را روزنامهء وال استریت جورنال چاپ امریکا در شمارهء اخیر خود به چاپ رسانده است. در ماه جون همین سال روزنامه مقالهء در مورد فساد اداری مقامات افغان نوشته بود که آنها چگونه بکس های خود را از پول کمک های بین المللی پر می کنند و آن را به خارج از کشور انتقال می دهند.
در نتیجه، سنای امریکا ۵.۴ ملیارد دالر کمک ایالات متحده را برای افغانستان، قطع کرد.
ولی حالا این روزنامه نوشته است که ادارهء انکشاف بین المللی ایالات متحده یا USAID از دیر زمان بدین سو به فساد اداری و عدم شفافیت متهم است.
به نوشتهء روزنامه، کاغذ پرانی یا بیرو کراسی های سنتی دو تعهد ضد و نقیض دارند. یکی

بقیه در صفحه ۴

افغانستان د نړۍ والو رسنیو په هنداره کې

دریم مخ

زندگینامهٔ قوماندان نورآغا محمودی کاندید مستقل ولسی جرگه ولایت کابل

نورآغا (محمودی) فرزند حاجی محمود ساکن الاصل سرزمین سرسبز ولسوالی قره باغ ولایت کابل در سال ۱۳۴۰ هـ ش در قریه باغ عارق علیا پا به جهان گذاشت، تعلیمات ابتدائی خویش را در لیسه قره باغ بپایان رسانید، دورهٔ ثانوی را که مصادف به کودتای هفت ثور و آغاز دوره جوانی قوماندان نورآغا بود در صنف نهم دوره تعلیمی را ترک گفت و شامل صفوف مجاهدین آندیار گردید. در زمان تجاوز روسها بتاریخ (۶ جدی ۱۳۵۸) با انداختن یک میل تفنگ شکاری به شانه اش در ساحه نه پله ولسوالی قره باغ با جمعی مجاهدان دلیر عملاً به جهاد مسلحانه پرداخت. و عملیات های قهرمانانه را شجاعانه و دلیرانه انجام داد. که مردم مجاهد و شهید پرور قره باغ شاهد این مدعا میباشد.
قوماندان دلیر نور آغا محمودی به اثر فعالیتهای جهادی در سال ۱۳۶۰ هـ ش روانه زندان جهنمی پلچرخی شده و بعد از سپری نمودن ده سال زندان از قید رها و دوباره وارد میدان جهاد گردید. قوماندان نورآغا ده سال زندان پلچرخی را چون ده سال دانشگاه ...

بقیه در صفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

کرزی صیب! قانون ولې نه عملي کیږي؟

په دې کې هیڅ شک نشته چې د اسلام په سپېڅلي دین کې د هر چا حقوق واضح شویدي، داسې کومه ګوښه نه ده پاتې چې اسلام پر هغه رڼا نه وي اچولې، ځکه چې اسلام یو مکمل دین دی او الله تعالی ورته پخپل کتاب قرآن کریم کې کامل دین ویلې دي، په دې دین کې داسې څه نشته چې هغه نه وي څېړل شوې او د فقهې په کتابونو کې پر هغه کافي او شافي بحثونه نه وي شوي.

د افغانستان اساسي قانون اسلامي دی، دلته قاضي القضات او ستره محکمه موجوده ده، دلته په هر ولایت او هره ولسوالۍ کې قاضیان او څارنوالان ناست دي، او په اساسي قانون کې دا خبره په څرګندو ټکو کې لیکل شوې ده چې ټولې لانجې به د اسلام د مقدس دین په رڼا کې حل کیږي. مګر له بده مرغه د دومره لوی علمي پانګې درلودلو باوجود بیا هم زموږ د ګړو مسائل پخپل ځای پاتې دي او هر څوک پخپل سر او پخپل مټ د حلولو کوښښ کوي چې تر ټولو لوی ثبوت د زمکې په سر د هزاره ګانو او کوچیانو ترمنځ روانې جګړې دي چې تر اوسه لسګونو وګړو پکې خپل قیمتي ژوند له لاسه ورکړی دی. اوس نه یواځې دا چې ددغې جګړې لمنه نورو سیمو ته خورېږي بلکې د هېواد پلازمېنې کابل هم ددغې جګړې د اور له لمبونه په امن کې نه دی پاتې.

د هېواد پلازمېنې کابل ته ددغې جګړې د اور لمبی رسیدل په دې حقیقت ګواهي ورکوي چې الله دې نکړي کابل د باروتو په ډېری بدل شوی او د اور یوه معمولي بڅرکه هم د پلازمېنې په هر ګوټ کې د اور لمبې اوچتولې شي. نه یوازې دا موضوع عادي وګڼل شي او د پخوا په څېر یواځې د پلټنې د هیئتونو په استولو بسنه وشي.

اوس وخت ددې راغلی چې قاضي القضات او ستره محکمه په پوره قاطعیت سره د هزاره ګانو او کوچیانو ترمنځ دغه شخړه پای ته ورسوي او په څرګندو ټکو کې خپله فیصله دواړو لورو ته واوري. د محکمې له فیصلې نه سرغړوونکو ته د سختې سزا خبرداری ورکړي او دا خبره ورته په قاطعیت سره وکړي چې هر څوک د قضاء له پریکړونه سرغړونه وکړي هغه په هیڅ حالت کې د بخښلو نه دی. د قانون مطلب هر ګز دا نه دی چې هغه دې یواځې په کتابونو کې موجود وي او عملي بڼه خپله نکړي بلکې د قانون مطلب دادی چې د وګړو ترمنځ په لانجو او شخړو کې په بشپړ زور او قوت سره عملي کړی شي او له قانون نه سرغړونکي ته له سخت نه سخته سزا ورکړی شي. د قانون په پلي کولو کې د هیڅ راز مصلحت او غفلت ښکار کیدل نه دي پکار، که الله مکړه مصلحتونو ته پر قانون ترجیح ورکړی شي نو بیا قانون خپل ټول قوت او ګټه له لاسه ورکوي، هر څوک د قانون له ګرفت او قوت نه خپل ځان محفوظ محسوسوي او فکر کوي چې په ټولنه کې اصل زور د قوم قبیلې متې دي چې هر څه وربانديې کولې شي، په داسې حال کې چې په یوه ټولنه کې تر ټولو اوچت قوت د قانون دی چې له سرکښ نه د سرکښ انسان لاسو ته زنځیرونه اچوي او د حق په وړاندې تسلیمیدو ته مجبور وي.

که موږ تاریخ ته وګورو نو دا حقیقت ترلاسه کیږي چې په کومه ټولنه کې قانون پلې شوې او هیڅوک له قانون نه مافوق نه دي ګڼل شوې هلته نه جګړې او شخړې منځ ته راغلي او نه هم په ښارونو، قریو او کلیو کې فسادات او اله ګوله شوې ده. دا د قانون د نه پلې کولو وجه ده چې زورواکان کله هم وغواړي د د کمزورو وینې تویوي او د خپل ځان د برئت له پاره دنه منلو بهانې او حیلې وړاندې کوي.

همدا د اسلام قانون و چې د حضرت عمر رضی الله عنه په وخت کې د افغانستان په څېر د شلو هېوادو هومره مساحت لروونکی سیمې د امن ځانګو وی، هلته عام وګړي خو څه کوې چې والیان او د والیانو اولادونه هم د قانون له ګرفت نه آزاد نه وو، هیچا نه شو کولې چې پر چا ظلم او تیری وکړي. پخپله د وخت خلیفه به هم د عدالت په صحنه کې راغوښتل کیدو او له څه امتیازه پرته به ترینه پوښتنې او ګرویکنې کیدلې، هر چا له څه ویرې پرته کولې شوه چې په ښکاره میدان کې له امیر المؤمنین نه پوښتنه وکړي او خپل زړه ډاډه کړي، لکه چې یو اصحابي له حضرت عمر رضی الله عنه نه د خطاب پر وخت پوښتنه کوي او ورته وایي تر هغه خبرې نشې کولې تر څو پورې چې زما ددغې پوښتنې ځواب رانکړی چې تا دغه اغوستې جامې له کوم ځایه کړیدي؟ په غنیمت کې خو زما او ستا ټوټه یوه برابره وه، زما جامې ترینه جوړی نه شوې مګر ستا په تن له همغې ټوټې نه جامې دي؟

عمر رضی الله عنه خپل زوی ته غږ وکړ چې ددې ځواب ته ورکړه هغه پاڅید او ورته یې وویل چې ما خپله برخه پلار ته ورکړیده نو ځکه جامې ترینه جوړې شویدې، سوال کوونکی ددغه ځواب په اوریدو قناعت وکړ او عمر رضی الله عنه ته یې وویل چې اوس نو خپل خطاب جاري وساته. دا د قانون او د قانون د عملي نفاذ هغه قوت دی چې یو عادي وګړي هم له خلیفه نه له څه ویرې پرته به بشپړ ډاډ پوښتنه کوي.

که ښاغلی کرزی او ملګري یې واقعاً په افغانستان کې د هر ډول ظلم زیاتې او شخړو مخه نیول غواړي نو لدې پرته بل هیڅ لاره ورته نشته چې په هېواد کې اسلامي قانون په عملي بڼه پلې کړي او هیچاته دا فرصت ورنکړي چې له قانون نه سرغړونه وکړي. یواځې د قانون د نفاذ له لارې دا شونې دی چې افغانستان له هر ډول ناخوالو او د پردیو له لاسوهنو او مداخلو څخه وژغورل شي که نه نو د افغانستان او اسلام داخلي او بهرنیو دښمنانو حالات تر دې کچه خراب کړي دي چې آن د هېواد استقلال او امن یې له جدي ګواښ سره مخامخ کړیدی.

هغه وخت راغلی چې لوېدیځ پر خپلې افغان ستراتیژۍ بیا کتنه وکړي "احمدرشید"

فیننشل ټایمز ورځپاڼې، چې په لندن کې خپرېږي،د نامتو پاکستانې شناند احمدرشید په قلم یوه مقاله خپره کړې .احمدرشید په دې لیکنه کې وایي هغه وخت رارسېدلی چې لوېدیځوال د افغانستان په باب پرخپلې ستراتیژۍ بیا کتنه وکړي.د احمدرشید د دې مقالې غټ ټکي تاسو تاندوالو ته وړاندې کوو:

احمدرشید وایي په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو د عمومي قومندان په توګه د جنرال سټنلي مک کرسټل له لېرې کېدو وروسته باید په افغانستان کې پر پوځي ستراتیژۍ بیا غور وشي.په عین وخت کې د ولسمشربارک اوباما د حکومت چارواکي له خپلو متحدانو سره زیات یووالی وښیي اوخپلې هلې ځلې پراخې کړي.

احمدرشید همداراز لیکي جنرال پیټرایوس په داسې حساس وخت کې په افغانستان کې د نړیوالوځواکونو عمومي قومندان ټاکل شوی چې د افغانستان بحران سبب کېږي چې د یوې متحدې یا یولاس هراړخیزې بهرنۍ پالیسۍ په جوړولو کې د لوېدیځ وړتیا اغېزمنه شي:

احمدرشید د کرزي د حکومت د کمزورتیاوو او نیمګړتیاوو له یادونې وروسته وایي چې د اوباما د ټیم ناموثریت لړېه ډاګه شوی ځکه چې دوی داسې کسان ګوماري چې په سیمه کې د امریکا د پالیسۍ په باب پرېکړه

کوي خو د هغې په باب مالومات نه لري.

لیکوال وروسته د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا له خاص استازي ریچارد هولبروک سره په پاکستان او کابل کې د امریکا د سفیرانواختلاف ته اشاره کوي او وایي چې په پینټاګون کې هم د افغانستان او پاکستان د ملکي مشرانوپه باب د پالیسۍ پرسرد جنرالانو ترمنځ اختلاف دی.

د احمدرشید په ادعا د امریکایي جنرلانو ترمنځ د اختلاف ترټولو مهمه موضوع له افغانستانه د ۲۰۱۱ کال په جولای کې د امریکایي ځواکونو د تدریجي ایستلود وخت د ټاکنې پرسر ده.

احمدرشید وایي یوه جنرال ماته وویل چې له سخت دریځو سره د جګړې لپاره څوک وخت نه شي ټاکلی.

لیکوال وایي چې له دغو اختلافاتو د افغانستان او پاکستان مشران خبر دي او دوی هڅه کړې چې له هغو څخه استفاده وکړي.

اوباما د ملکي مشرتابه تر کنټرول لاندې د پوځي مشرتابه د راتلو پرضرورت ټینګار وکړ او په دې ډول یې د اختلافاتو د پای ته رسولو لپاره سخت پیغام ورکړ.

احمدرشید وایي ځینې اختلافات د ۲۰۰۸ کال دي چې په امریکا کې انتخابات کېدل اود اوباما د خپل ګوند په منځ کې د ولسمشرۍ د کاندیدېدو لپاره د اوباما او مېرمن کلنټن ترمنځ سیالۍ روانې وې.

احمدرشید په پوځي ډګر کې د ناټو ځواکونو د ستونزو د یادونې په ترڅ کې وایي چې د مارجې له عملیاتو پنځه میاشتې وځي خو لا هم هلته برۍ قاطع نه دی ،په کندهار کې د ناټو ځواکونو عملیات ځنډول شوي او د نړیوالوځواکونو تلفات تربل هروخت زیات شوي دي تردې چې په جون کې تراوسه پورې ۷۸ بهرني پوځیان وژل شوي دي.

لیکوال وروسته لیکي : ښاغلی کرزی له طالبانو سره د جګړې نه بلکې د خبرو غوښتونکی دی.اروپایان هم پر امریکیانو فشار راوړي چې خبرو ته تیار شي نو کېدای شي چې سوله ییزه حل لاره پیدا شي.خو د اوباما همکاران ټینګار کوي چې باید لومړی طالبان له پوځي پلوه کمزوره کړای شي.

احمدرشید وایي چې د طالبانو مشران حاضردي چې له امریکایانو سره خبرې وکړي او اکثره افغانان هم په خبرو کې د امریکا د برخې اخیستو غوښتونکي دي .امریکا کولی شي چې د کرزي حکومت طالبانو ته د زیاتو امتیازونو له ورکولو راوګرځوي او اجازه ورنه کړي چې پاکستان پر کابل خپل شرطونه تحمیل کړي.

احمد رشید وړاندیز کوي چې امریکایي او ناټو ځواکونه باید لومړیتوب هغو هدفونو ته ورکړي چې نسبتاً په اسانه ترلاسه کېدای شي .دوی باید اقتصادي پرمختګ او د حکومتي خدماتو ښه کولو ته توجه وکړي .د کابل – کندهار د لویې لارې په شمول د مواصلاتي لارو او د کابل د شاوخوا ولایتونو د امنیت پرښه کولو تمرکز وکړي چې د طالبانو شمېر پکې کم دی.

محمد خلیل

د امن د راوستو یواځینی نسخه

دا څومره د تأسف خبره ده چې د افغانستان مسلمان ولس د دریو لسیزو راهیسې د بم باروت او د مرمیو په لمبو کې خپل خوږ ژوند له لاسه ورکوي. که څه هم په ظاهره هر افغان له جنګ نه د نجات خبرې کوي، شنونکي له دې بوګنوونکی حالت نه د وتلو لپاره ډول ډول تبصرې او تحلیلونه وړاندې کوي، سیاسي، پوځي، اقتصادي، جغرافیایی او سیمه ییز څېړونکي خپل خپل دریځونه بیانوي مګر داسې هیڅ څرک نه لیدل کیږي چې له جنګ نه د خلاصون هیله پیدا شي. آخر دا دومره هلې ځلې ولې نتیجه نه ورکوي؟ آیا د اخلاص کمی دی او که د جنګ نه د خلاصیدو اصلي لاره غلطه شویده؟ که حقیقت ته ځیر شو نو دا نتیجه ترلاسه کیږي چې له جنګ نه دخلاصیدو اصلي لاره غلطه شویده. د جنګ اصل سبب او علت دمنځه وړلو کوښښ نه دی شوی، د جنګ د سکروټو د مړ کولو فکر چا نه دی کړې او دهغه علت دمنځه وړلو لپاره عملي ګامونه نه دي اوچت شوي چې د جنګ د تداوم باعث ګرځیدلی دی.

جنګ د نړۍ په سطحه وي او که د هېواد په سطحه په دې کې یو لوری خامخا تیری کوونکی او بل لوری د خپلو حقوقو دفاع کوونکی وي، تر څو پورې چې تیری کوونکی له خپل تیري نه لاس په سر نشي جګړه نه شي ختمیدلې او نه هم ددې امکان شته چې مظلوم لورې له خپل حق نه لاس په سر کیدو ته مجبور کړی شي، حق هغه قوت دی چې ددې ترلاسه کولو پرته د چا زړه نشي قراریدای او د وینې تر آخري څاڅکي پورې لاس تر زنې نه کیني.

د کائناتو خالق الله جل جلاله د انساني فطرت سره موافق د امن په فضاء کې د اوسیدو لپاره دا ابدي قانون ایښې دی چې نه دی څوک پخپله پر چا ظلم وکړي او نه دی بل څوک پر ځان ظلم کولو ته پرېږدي. د الله تعالی دغه لارښوونه د امن د قیام لپاره داسې زبردسته نسخه ده چې ددې له رعایت کولو پرته پر بل هیڅ څیز د جګړو او وژنو مخه نشي نیول کیدای. موږ ولیدل چې په انساني تاریخ کې ډېر لوی لوی پوځي او مادي ځواکونو د کمزورو وګړو پر حقوقو تیری وکړه، خپل ټول زر، زور او فشار یې استعمال کړ مګر د کمزورو مظلومو وګړو د دفاع جذبه مهار نکړی شوه. او بالاخر دیته اړ شول چې له ډېر انساني او مادي تباهی وروسته د جګړې میدان پرېږدي او پدې توګه مظلوم وګړي خپل روا حقوق ترلاسه کړي.

د تېرو لسو، یوولسو کلو راهیسې چې د امریکا په شمول نور اروپایي او غیر اروپایي هېوادونه د القاعدې د غورځنګ له پلویانو سره د جنګ په ډګر کې لاس او ګریوان دي او د نړۍ د ډېرو وګړو خوبونه یې تښتولي دي ددې ترشا هم یو لوی علت موندل کیږي، القاعده له امریکا او دهغه له متحدینو سره د جګړې اصل علت دا بیانوي چې امریکا د نړۍ په هر هېواد په ځانګړی توګه پر مسلمانو هېوادو د خپلې خوښې کفري دیموکراسي نظام مسلط کول غواړي، مسلمان هېوادونه کمزوری کوي او ان چې ډېر یې تجزیه کړي هم دي، په منځني ختیځ کې د ظالم اسرائیل بشپړ ملاتړ کوي او دهغوی په مرسته د عربي هېوادو په زیرمو او خاوره قبضه کړی، څرګنده خبره ده چې تر څو پورې د القاعدې دغه غوښتنې پوره نشي او امریکا پخپل دغې پالیسۍ له نوی سره غور ونکړي د زور له لارې د جنګ اور نشي مړ کیدلې، همدغه حالت د نړۍ د نورو هېوادو هم درواخله چې له ډېرې مودې راهیسې پکې جګړې رواني دي مثلاً کشمیر، چیچین، سومالیا، فلسطین، سوډان، ګرجستان، کردستان، فلپین او داسې نور لسګونه هېوادونه، په دې کې هیڅ شک نشته چې د افغانستان په شمول د نړۍ په نورو هېوادو کې د جګړو دغه اور تر هغې نشي مړ کیدلې تر څو چې انسانیت د عدل او انصاف لاره نه وي خپله کړې، د ظلم، بی عدالتی او لوټي غوښتنې شیطاني دریځ یې نه وي پرېښي او د حق او باطل ترمنځ جلاکوونکی کرښه یې نه وي اچولې. د الله رسول محمد صلی الله علیه وسلم چې په مکه معظمه کې په رسالت مبعوث شو، په هغه وخت دغه سیمه د بدترین انساني ظلمونو ښکار و، محمد صلی الله علیه وسلم ددغې سیمې وګړو ته د خپل مبعوث کیدو دلیل دا وړاندې کړ چې زه الله تعالی دې لپاره مبعوث کړی یم چې د خلکو ترمنځ عدالت وکړم، هغه صلی الله علیه وسلم د امن د قیام لپاره د الله جل جلاله دغه ابدي نسخه وړاندې کړه چې نه پر بل چلا ظلم وکړئ او نه هم بل څوک پخپل ځان ظلم کولو ته پرېږدئ. څرګنده خبره ده چې دا د الله له لوری د امن د قیام او د ټولو جګړو د ختمولو لپاره تر ټولو غوره لاره ده. یواځې د همدغې الهی نسخې له لارې کیدلې شي چې د نړۍ په سر انسان وژنې دغه لړۍ ختمه او بشر د امن په فضاء کې ژوند تیر کړي.

لدې پرته نه اتوم بم نړۍ ته امن ورکولی شي او نه هم نایتروجن بم، نه بیولوژیکی وسلې او نه هم بم غورځوونکي الوتکې.

د جنګ په لمبو کې راګیر انسانیت ته ښه خبره داده چې د امن د راوستو لپاره هغه فطري او مؤثره لاره غوره کړي چې د آسمانونو، زمکې او د ټولو کائناتو خالق او مالک ذات پخپل کلام قرآن کریم کې انسانانو ته ښودلی ده، هغه دا چې همیشه لپاره د عدل او انصاف لاره ونیول شي، یو انسان پر بل انسان په هیڅ حالت کې ظلم او تیری ونکړي، د حق او ظلم د یو ځای کولو کوښښ پرېښودل شي، ځکه چې حق او باطل، ظالم او مظلوم پخپلو کې غوښه چاړه دي، حق او باطل یو ځای نشي چلیدلې، ظالم او مظلوم په یو تغر نه شي کیښناستلې نو ځکه پکار دي چې د افغانستان په شمول په ټوله نړۍ کې د واقعی او همیشني امن د قیام له پاره د عدل او انصاف لمنه ونیول شي ظالم له ظلم او تیری نه لاس په سر شي او حقدار ته خپل حق ور کړي. له دې پرته ټولې هلې ځلې ناکامه او د جګړو اور نه شي وژلې.

افغانستان د نړۍ والو رسنیو په هنداره کې

لوېدېځو مطبوعاتو له افغانستان څخه د نړیوالو ځواکونو د وتلو په اړه مطالب خپاره کړي دي، د نیویارک ټایمز ورځپاڼې په وینا جنرال پتریوس غواړي چې په ټاکلي نېټې له افغانستان څخه د امریکایي سرتېرو ویستل پیل کړی، خو دی نه غواړي چې وار له واره خپل پوځیان له دې ځایه وباسي.

نیویارک ټایمز:

نیویارک ټایمز ورځپاڼې تر دې عنوان لاندې چې "جنرال پتریویس له افغانستان څخه په تیزۍ سره د امریکایي ځواکونو د وتلو مخالفت کوي" یوه مقاله خپره کړې چې په دوام کې یې لیکي:

په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو عمومي قومندان هڅې پیل کړي څو په متحده ایالاتو کې د افغانستان د جګړې په اړه مشکوک خلک په دې قانع کړي، چې د وروستیو ناکامیو سره سره بیا هم امریکا کولی شي چې دغه جګړه وګټي.

جنرال ډېویډ پتریویس ویلي هغه د دې لپاره افغانستان ته نه دی راغلی، چې له دغه هېواد څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو د چارو مشري وکړي.

له نیویارک ټایمز ورځپاڼې سره په یو ساعته مرکه کې جنرال ډېویډ پتریویس په ۲۰۱۱ کال له افغانستان څخه په تیزۍ سره د امریکایي ځواکونو د هر ډول وتلو سره خپل مخالفت څرګند کړی دی.

ولسمشر باراک اوباما د ۲۰۱۱ کال د جولایي میاشت له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو د پیل نیټه اعلان کړې ده.

جنرال پتریویس ویلي، یوازې څو ونی شوي چې جګړې سم بدلون اخستی دی او هغه منابع ورته برابرې شوي، چې رواني جګړې ورته اړتیا لرله.

د هغه په وینا د لومړي ځل لپاره به هغه څه ترلاسه کړو د څه لپاره مو چې له تیر یو نیم کال راهیسې هلې ځلې کولې.

نیویارک ټایمز ته جنرال پتریویس په کابل کې په خپل دفتر کې ویلي: ولسمشر اوباما زه د دې لپاره نه یم استولی چې له افغانستان نه د امریکایي ځواکونو وتل وڅارم بلکې د هغه په وینا زما ټول اوامر د ټاکل شوو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره دي.

په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو عمومي قومندان له ټایمز ورځپاڼې سره په څرګندونو کې ویلي، چې هغه به له افغانستان څخه په تیزۍ سره او د ګڼ شمیر ځواکونو د ویستلو پر وړاندې مقاومت وکړي.

جنرال پتریویس ویلي، که طالبان داسې باور لري چې موږ به دغه شان ووځو، نو هغوی په غلطه دي.

شپیګل ان لاین:

شپیګل ان لاین ویب پاڼې هم د افغانستان د روان وضیعت او له دغه هېواد څخه په راتلونکې کې د امریکایي ځواکونو د وتلو په اړه مطلب خپور کړی دی. شپیګل ان لاین لیکي، تیرې دوه میاشتې په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو لپاره ښې نه دي ثابتې شوې. د ویب پاڼې په وینا د افغانستان د جګړې په نهو کلونو کې تیره جولای میاشت د بهرنیو ځواکونو لپاره تر ټولو خونړۍ وه ځکه په جولای کې ۶۶ بهرني سرتیري په دغه هېواد کې ووژل شوه.

د مطلب لیکونکي په افغانستان کې د جګړې د پیل راهیسې د نړیوالو ځواکونو مرګ ژوبلې ته په اشارې سره وایي په افغانستان د وژل شوو بهرنیو عسکرو شمیر له دوو زرو پورته شوی او دا په داسې حال کې ده چې یوازې روان کال ۴۳۴ نړیوال سرتیري په افغانستان کې وژل شوي دي.

له (این بي سي) سره په مرکه کې په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو مشر جنرال پتریوس د زغم غوښتنه وکړه او وویل، په ځینو سیمو کې پرمختګ شوی چې او س باید دغه پرمختګونه له یو بل سره وتړل شي او پراخ شي.

شپیګل ان لاین وایي، دا نه ده معلومه چې کله به د صبر او زغم لپاره د جنرال پتریویس غوښتنې ته درناوی وشي ځکه چې په امریکا او د جرمني په شمول د ناټو تړون په یو شمیر غړو هېوادونو کې د افغانستان د جګړې ملاتړ مخ په کمیدو دی.

شپګیل ان لاین د مطلب په پای کې لیکي، په جرمني کې یو شمیر سیاست وال د افغانستان له جګړې څخه دومره ستړي شوي چې له طالبانو سره خبرو اترو ته چمتو شوي دي. د ویب پاڼې په وینا د دې لپاره چې د افغانستان جګړه او دغلته تاوتریخوالي پای ته ورسیږي یو شمیر جرمني چارواکي حتی د انجنیر ګلبدن حکمتیار په څیر سخت دریځو سره د خبرو غوښتونکي دي.

ولې مو اسلام ومانه؟

ژباړه: عبدالله "کامه وال"

پخوانی نوم: جان دکلې - اسلام نوم: مصطفی الامین

پخوانی مذهب: عیسویت - د هېواد نوم: لائبیریا

له تیارې نه د رڼا په لور

مصطفی الامین د مغربي افریقا د لائبیریا د هېواد اوسیدونکی دی نوموړی وائي چې زه د جان دکلې د مسلمانې قبیلې سره اړیکې لرم چې د ګنې په هېواد کې اوسیږي، خو له بده مرغه زما مور او پلار زه د عیسویانو دمشن ښونځي ته د زده کړی له پاره ولیږلم ځکه چې په هغه زمانه کې د زده کړی لپاره نور ښوونځي نه وو، په دې موده کې د زده کوونکو په ذهن کې د عیسویت عقیده داسې کلکه اچول کیږي چې د ماشوم په ذهن کې له عیسویت پرته بل هیڅ مذهب ځای نه شي پیدا کولې.

کله چې زه د شعور عمر ته ورسیدم نو زه یو مکمل عیسوي وم. په ۱۹۹۰ ع کال چې زه مارودیا ښار ته راغلم او خپلې کورنی سره مې ژوند پیل کړ نو ګورم چې د دکلې قبیلې مسلمان وګړي د عیسویانو تر ظلم او تیری لاندې دی نو ځکه زموږ خاندان هم د دکلې قبیلې د نورو وګړو په څیر د هېواد لوی مرکزي ښار ته هجرت وکړ. هلته هم له موږ نه ډېرې پوښتنې او ګرویګنې کیدلې چې تاسی څوک یې له کومه ځایه راغلې یې او له کوم قوم او قبیلې سره اړیکې لرئ؟ دغو پوښتنو او ګرویګنو په وخت موږ خپلې اړیکې د جان سنز له قبیلې سره وښودې جان سنز د امریکا د نیګرو اوسیدونکو یوه قبیله ده له دغې قبیلې سره د اړیکو په ښودلو سره زموږ مشکلات ډېر کم شول او له مرګ نه محفوظ پاتې شوو. په دې وخت ماته دا فکر ولوید چې په اسلام کې داسې یو څیز خامخا شته چې عیسویان یې په قهر کړي او د مسلمانانو د ختمولو لپاره یې بلډې وهلې دي.

که څه هم په هغه وخت زما د کورنۍ په شمول د جان دکلې د قبیلې مسلمانان د اسلام په اصل روح نه پوهیدل خو په پټه یې لمونځ ضرور کاو، ما چې دهغوی د لمونځ دغه کیفیت ولید نو په زړه کې مې وویل: آخر د خپل رب بنده ګي کول کوم جرم دی چې عیسویان یې دومره په قهر کړیدي؟ عبادت خو عیسویان هم کوي او موږ مسلمانانو کله هم دهغوی په خلاف کرکه نه ده ښودلی.

په دغو ورځو کې زما لاس ته د مسلمانانو یو کتاب چې نوم یې (**Christian-Muslim Dialogue**) و راغې، هغه مې ټول په غور سره ولوست او په دې حقیقت پوه شوم چې اسلام د عیسویت په نسبت برحق دین دی او په دې کې هیڅ قسم ابهام نشته. یوه ورځ په یو مجلس کې یو مسلمان له عیسوي عالم نه د تثلیث د عقیدې په اړه معلومات وغوښت چې د تثلیث عقیده ورته تشریح کړي. هغه داسې ځواب ورته ورکړ چې هیڅ قانع کوونکی نه و، لدې پرته یې چې یوه درې ده او درې یوه بل هیڅ تفصیل یې ورنکړ، ما دا حقیقت درک کړ چې که د عیسویانو کوم مستند عالم د تثلیث د عقیدې تشریح نه شي کولې او خلک په دې نه شي قانع کولې چې تثلیث څه شی دی؟ نو داسې مذهب او عقیده له سره د منلو نه ده، زه ډېر ژر دغې نتیجې ته ورسیدم چې کوم خلک یواځې د یو الله بندګي مني هغوی په حقه دي لدې وروسته مې د قرآن کریم په لوستلو پیل وکړ، بالآخره په دې خبره مې ایمان پوخ شو چې کوم خلک د اسلام له دین پرته بل مذهب خپلوي هغوی غلطه لاره نیولې ده او د قیامت په ورځ لوی تاوان کوي، که زه د اسلام رښتونی دین ونه منم نو زه به هم په لوی لاس نقصان وکړم نو ځکه مې سمدلاسه د اسلام دین ومانه او خپل ځان مې فطرت ته وسپاره. لدې وروسته مې هوډ وکړ چې خپل عمر به د اسلام په مطالعه کې تیروم. زه به هر وخت اسلامي مطالعاتي مرکز ته تللم او هلته به مې د علماو تقریرونه او درسونه اوریدل.

مصطفی الامین وایي چې زه د اسلام له دې خبرې نه ډېر متاثر شوم چې هر څوک مسلمانیږي او د اسلام په رڼا کې خپل ژوند تیروي هغه د نړۍ د ټولو مسلمانانو ورور ګرځي او د وروری دا اړیکه دومره غښتلی وي چې د وینې اړیکه هم دهغه په وړاندې څه اهمیت نه لري. دویمه غټه خبره دا چې قرآن کریم د انسان هیڅ یو اړخ داسې نه دی پرېښي چې وړاندې رڼا نه وي اچولی او هغه یې حل کړی نه وي، په هغه کې داسې حقایق بیان شوي دي چې ساینس هم دهغوی تائید کوي څوارلس سوه کاله وړاندې چې قرآن کریم کوم انکشافات کړي دي د نوی زماني ساینس پوهان نن ورباندې پوهیږي. د زوړ قرآن کریم او نوی قرآن کریم په نسخو کې هیڅ ډول اختلاف او تضاد نشته، له تحریف نه بالکل پاک دی. مګر په نورو آسماني کتابونو کې ډېرې لاسوهنې شوي دي چې دهغوی ترمنځ اختلافات او تضادات ښی بیلګي موجودی دي.

ما چې اسلام قبول کړ نو زما ډېر دوستان له مانه کلک خفه شول او راته یې وویل چې مسلمانان جنګ خوښوونکی، د امن دښمنان او فساد پیدا کوونکی دي، ما هغوی ته په ځواب کې وویل: په نورو له تنقید کولو وړاندې لږ غونډې خپل ګریوان کې هم سرښکته کړئ او ماته ددې خبرې ځواب راکړئ چې آیا لومړی جنګ عظیم مسلمانانو له خوا ترسره شوې؟ آیا دویم جنګ عظیم مسلمانانو پیدا کړی اوددې باعث همدوی دي؟ ! هغوی زما دپوښتنې په وړاندې چپ پاتې شول، صرف دومره یې وویل چې د ځینو شرخوښو په خلاف ګامونه اوچتول ضروري وي، ما ورته وویل په دې خبره خو هم لږ غوندې غور وکړئ چې ګامونه اوچتولو والا څوک وو، او د چا په خلاف چې ګامونه اچوت شوي هغوی کوم خلک وو؟ آیا هغوی مسلمانان ول؟ په دې ترتیب ما خپل ټول دوستان قانع کړل چې ما څه کړي دي هغه پر ځای او ښه دي. د انسان په توګه

پاتې ۴ مخ

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
داړیکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
ډیزاین: خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: دحزب اسلامي دفتر سپلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

بقیه زندگینامهٔ قوماندان نور آغا محمودی ...

در کسب فیض علم از استادان بزرگ سپری نموده و بدرجات عالی فهم و دانش در علوم اسلامی رسید. نامبرده بخاطر فتوحات هرچه بیشتر مجاهدین و در هم کوبیدن سنگرهای کمونیزم مردانه رزمیده بخصوص عملیات بزرگی را که بالای کندک های قومی لوای (۵۵۴) بگرام کابل و غندهای امنیتی سرک نو کابل - بگرام که بالاخره سقوط نظام در کابل شد انجام میداد.

قوماندان قهرمان هیچگاهی سرسازش را با دشمنان اسلام نگذاشته و در راه هدف خویش چون کوه استوار بوده چه در دوران جهاد و چه بعد از آن فعالیت های سیاسی و جهادی خویش را همچو یک مجاهد هدفمند و دلیر تعقیب نموده است. بالاخره نورآغا به اثر درخواست و تقاضای مکرر مردم منطقه و دوستانش حاضر گردید تا در انتخابات پارلمانی ۱۳۸۹ اشتراک نمائید.

قوماندان نورآغا فعلاً کاندید مستقل ولسی جرگه از ولایت کابل بوده و بخاطر خدمت به مردم مسلمان و مظلوم خویش میخواهد به خانه ملت راه یابد از همه دوستان، همسنگران و هموطنان امیدوار است تا با وی همکاري همه جانبه نموده و بخاطر پیروزی نامبرده تلاش فراوان نمایند.

برادر مجاهد و معلول تان نورآغا را تنها نگذارید.

له تیارې نه د رڼا په ...

تاسی زما لپاره محترم یاست ځکه چې اسلام موږ ته د انسانیت د احترام درس راکوي.

مصطفی الامین وایي هر مسلمان مسؤول دی چې د اسلام د خپراوي لپاره خلکو ته وعظ او تبلیغ وکړي. الله تعالی چې دغه دین پخپله غوره کړی نو څوک به داسې وي چې دا خوښ نه کړي، دې لپاره پر موږ لازم دي چې موږ خپل ژوند داسې تیر کړو چې نورو خلکو لپاره یوه ښه بېلګه وي، هر مسلمان لپاره ضروري ده چې پر اسلام پخپله هم ځان پوه کړي او نورو خلکو ته هم ورزده کړي.

د اسلام دین د هر انسان ضرورت دی او تر هغه یو انسان د آرام ژوند خاوند نه شي کېدلی تر څو پورې چې د اسلام په رڼا کې خپل ژوند ته وي عیار کړي.

هر روح لرونکی څیز د کوم خاص مقصد لپاره پیدا کړی شوی دی، د انسان د تخلیق اصل مقصد دادی چې هغه خپل خالق وپیژني او دهغه صحیح بندګي وکړي. موږ تل لپاره ژوندي ته یو بلکې د آخرت په لور سفر ضروري دی، مګر د آخرت د ژوند انحصار ددنیا پر اعمالو دی، نو ځکه هر مسلمان ته پکار دي چې د دنیا ژوند لوی غنیمت وګڼي.

الله تعالی چې پر موږ کوم لوی لوی احسانونه کړیدي پر موږ دهغوی شکریه ادا کول ضروري دي، په دې سره ددنیا او آخرت ټول ګټې ترلاسه کیږي. هغه خلک څومره خوش قسمته دي چې په آزاده فضاء کې اوسیږي او دهغوی په وړاندې پر اسلام د عمل لپاره هیڅ خنډ نشته، هغوی باید له دې لوی نعمت څخه ګټه اوچته کړي او پر اسلام د عمل لپاره هلې ځلې وکړي.

جنگ افغانستان با وضعیت ...

روزنامه نیویورک تایمز در شماره اخیر خود این موضوع را بررسی کرده می نویسد:

مردم امریکا به این امر معتقد اند که کشورشان به خاطر حفظ منافع ملی خود در افغانستان حضور دارد تا القاعده را از پناه گاه در دو طرف سرحدات افغانستان محروم بسازد. از سوی دیگر اگر امریکا مردم افغانستان را امروز در مقابل ظلم طالبان تنها رها کند، به ارزش های اخلاقی و ستراتیژی خود هم ضربه وارد می کند.

اما جنگ در افغانستان برای بسیاری از مردم امریکا گیج کننده می باشد و همه می خواهند ستراتیژی امریکا را در این ساحه به وضاحت بدانند و ببینند که آیا امروز در حالات کنونی، کدام روزنهء امید برای پیروزی وجود دارد یا خیر؟

روزنامه می نویسد:

مردم می خواهند بدانند که بعد از فرستادن ۳۰ هزار عسکر دیگر امریکا به افغانستان چه تغیراتی در صحنه جنگ آمده، حکومت امریکا تا چه حد توانسته شرکای خود را در منطقه مخصوصا رییس جمهور کرزی و جنرال اشفاق کیانی را به همکاري بیشتر جلب کند.

در صحنهء جنگ، اولین آزمایش ستراتیژی جدید ،عملیات در ولسوالي مارجه ولایت هلمند بود که چند ماه از آن می گذرد ولی نتایج عملی آن تا حال دقیق معلوم نیست و تجربه های مارجه سبب شده است که عملیات کندهار نیز تاخیر گردد.

سوال دیگر اینست که شریک امریکا در افغانستان یعنی حکومت آقای کرزی تا چه اندازه به تعهدات خود پابند است. رییس جمهور کرزی در کنفرانس بین المللی کابل تاکید نمود که مبارزه علیه فساد اداری را بیشتر خواهد ساخت، اما آیا امریکا اقدام مناسب را پیش گرفته است تا حکومت افغانستان را به عملی کردن این تعهداتش وادار سازد. از همه مهمتر این که آیا امریکا چنین ضمانت را بدست آورده است که در انتخابات پارلمانی قریب الوقوع در افغانستان، جعل کاری های که نتایج اولیه انتخابات ریاست جمهوری را بی اعتبار ساخت، تکرار نخواهد شد؟

در بخش نظامی و تعلیم و تربیه اردو و پولیس ملی افغانستان که در نتیجهء بی توجه ای ادارهء رییس جمهور سابق امریکا جورج بوش از نگاه مالی و وسایل و تجهیزات با نارسایی روبرو بود، اکنون چه اقدامات عملی صورت گرفته است؟

روزنامه نیویورک تایمز می نویسد برای عملی کردن هر ستراتیژی خروج یکی از قدم ها، معاملات سیاسی می باشد که یک تعداد از طالبان در آن سهم داشته باشند . در این رابطه هم مردم می خواهند بدانند که حکومت شان برای جلب طالبان سطح پایین چه اقدامات را در ساحهء تامین امنیت، جای کار، اعاشه و تمویل سایر احتیاجات زنده گی برای آن ها پیشنهاد کرده است. علاوه بر آن مردم امریکا و دیگران می خواهند بدانند که آیا کدام برنامه برای تماس با بعضی از رهبران طالبان نیز طرح شده یا خیر؟

نکته دیگر که در اسناد نظامی افشا شده ، تکراراً در مورد آن بحث صورت گرفته، اینست که ادارهء استخبارات نظامی پاکستان تا چه حد در گردش ماشین جنگی طالبان نقش فعال دارد.

به نوشته روزنامه این اسناد از یک سال قبل می باشند، در این یکسال امریکا تا چه حد توانسته است شرکای پاکستانی خود را به تلاش های بیشتر علیه طالبان و افراط گرایان تشویق کند؟

در نهایت، کار ستراتیژی و مهلت خروج قوای نظامی امریکا از افغانستان می باشد. رییس جمهور اوباما نیمه دوم سال ۲۰۱۱ را مهلت برای آغاز انتقال عساکر امریکایی از افغانستان تعیین کرده است، اما بعد از اعلان این تاریخ مقامات نظامی امریکا در مورد آن بیانات ضد و نقیض و پیچیده را ارایه کرده اند. روزنامه نیویرک تایمز در پایان مطلب می نویسد:

این سوال های می باشند که باید به وضاحت جواب داده شوند و به هر اندازهء که این موضوعات غیر شفاف نگهداشته می شوند به همان اندازه هیجان و سر درگمی هم بیشتر می شود.

د ملکي تلفاتو خبر نه دي ...

چیرې دملګروملتونو سازمان او نور اړوند اړخونو دملکي زیانونودحساسې موضوع رښتیني ارزوني ته ژمن وي هیله ده داسلامی امارت ددې وړاندیز په اړه خپل مثبت غبرګون وښیي که په دې برخه کې به دلاویجاړیدونکي حالت مسؤلیت هم ددوی په غاړه وي."

طالبانو د وړاندیز وروسته له دې وکړ چې په افغانستان کې د ملګرو ملتو استازندوی دفتر په یوه اعلامیه کې د ملکي افغانانو په مرګ ژوبلو کې د طالبانو ونډه زیاته وبلله .

ملګري ملتونه وایی چې اکثره عام افغانان د طالبانو له لوري په ځانمرګو بریدونو، د سړک د سر د ماینونو په چاودنو او نورو بریدونو کې وژل کیږي.

د دې راپور له خپرېدو وروسته د طالبانو مشر ملا عمر په یوه پیغام کې له خپلو کسانو وغوښتل چې د ملکیانو د مرګ ژوبلو مخنیوي ته پاملرنه زیاته کړي.

په همدې حال کې د امریکا نیوز ویک مجلې په یوه راپور کې ادعا کړې چې ملا عمر د پاکستان امنیتي ځواکونو نیولی او د هغه په نوم د پاکستان پوځ او استخبارات جعلي فرمانونه خپروي.تاند په په دې باب په خپله انګلیسي ویبپاڼه کې له طالبانو غوښتنه کړې چې دا موضوع سپینه کړي او په ښکاره افغانانو ته ووایي چې ایا د پاکستان له استخباراتو سره اړیکې لري او که یې نه لري د دې استخباراتي اداري په باب خپل دریځ او نظر څرګند کړي.

طالبان خپله جګړه له پاکستانه ...

ده وویل وسله وال مخالفان بېلابېلې ډلې لري مثلاً په جنوب ختیځ کې د حقاني شبکه، همداراز پاکستاني طالبان، او د القاعده شبکې ازبک او نور جنګیالي.

پیتریوس این بي سي تلویزیون ته وویل: "دلچسبه دا ده چې طالبان له لېرې رهبري کېږي.د دوی مشران په پاکستان کې دي او له هماغه ځایه قومانده ورکوي.موږ د دوی ترمنځ خبرې وینو(اورو)، کله چې د دوی مشران په خپل منځ کې خبرې اترې او مکالمه کوي، په دې حیرانېږو چې ملا عمر ولې افغانستان ته نه ځي او یا یې ړغ په میاشتو میاشتو نه پورته کېږي. "

ده دا هم وویل : "د طالبانو مشران ځان نه په تکلیف کوي او د خپلو جنګي کسانو په څنګ کې سختیو ته غاړه نه ږدي خو یوازې پیغامونه ورلېږي.دوی دا کار د موبایل ټیلفون په وسیله کوي. "

پیترایس ومنله چې په افغانستان کې د ناټو په مشری د نړیوالو ځواکونو ماموریت په پاکستان کې د سخت دریځو د پناهځایونواو د کابل د کمزوري حکومت له کبله له ستونزو سره مخامخ دی.

ده له ځینو وسله والو مخالفانو سره د روغې جوړې احتمال ورکړ او د عراق تجربې ته په اشارې سره یې وویل : "موږ په عراق کې له هغو کسانو سره خبرو ته کښېناستو چې لاسونه یې زموږ په وینو سره وو. "

جنرال پیترایس : ۲۰۱۱ کال په جولای کې د امریکایي ځواکونو د وتلو مسله قطعي نه ده

جنرال ډیوید پیترایس د ۲۰۱۱ کال په جولای کې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو د پیل مسله قطعي ونه بلله او ویې ویل چې دا مسله له حالاتو سره تړلې ده. که چیرې شرایط ښه نه وو د ځواکونو د ایستلو پروګرام به وځنډوي.

د امریکا ولسمشرباراک اوباما تېر کال اعلان کړی وو چې د ۲۰۱۱ کال له جولایه به له افغانستانه د امریکایي ځواکونو ایستل پیل کړي . خو پیترایس وویل چې د اوباما له لوري ټاکل شوې نېټه د کاڼي کرښه نه ده او که د وسله والو بلواګرو هلې ځلې زیاتې شوې، دا پلان ځنډېدلی شي.

ده همدارنګه وویل چې ولسمشراوباما به زغرده ویلي وو چې دا به یوه پروسه وي او د هغه دا خبره مشروطه وه.

ده دا هم وویل چې د ورځې یو څل له ولسمشر کرزي سره خبرې کوي.په تېره بیا د فساد په باب ، کرزی هم په دې موضوع پوه دی او اقدام کوي.

USAID از دیر زمان بدین ...

این که کمک ها را باید برای کسانی که در فساد آغشته هستند، تحویل نه دهند و دیگر این که باید همه بودجهء تخصیص داده شده را باید به مصرف برسانند.

به نوشتهء روزنامه، روی دلیل دوم، یعنی همهء بودجه باید به مصرف برسد، شرایط را برای فساد اداری بیشتر مساعد می سازد.

طبق راپور سال ۲۰۰۸ حکومت افغانستان در مورد فساد اداری که به نام گزارش «عظیمی» نیز مسمی شده است، کمک های خارجی یکی از عوامل گسترش فساد اداری در افغانستان می باشد.

گزارش سال ۲۰۰۹ USAIDنیز گفته است که فساد اداری در افغانستان به حد رسیده که در تاریخ این کشور بی سابقه می باشد و کمک های انکشافی، آسیب پذیری این کشور را به فساد اداری افزایش داده است.

بر اساس گزارس سازمان شفافیت بین المللی یا International Transparency، بعد از سومالیا، افغانستان دومین کشور در جهان است که فساد اداری به بیشترین حد در آن وجود دارد.

روزنامه به نقل از گزارش سال ۲۰۰۹ USAIDمی نویسد، تلاش های مبارزه با فساد در حکومت افغانستان ناکام مانده است، زیرا اغلباً دیده شده که مقامات و یا ادارات که باید بخش از حل مشکل فساد اداری باشند، خود عامل عمدهء فساد اداری می گردند. ولی با آن هم USAIDخواهان دادن منابع بیشتر به همین ادارات مبارزه با فساد است.

در گزارش USAIDآمده است که شفافیت و حسابدهی، بخش عمدهء از حل مشکل فساد اداری می باشد، ولی به نوشته وال استریت جورنال، این اداره خود فاقد شفافیت و حسابدهی است.

روزنامه می نویسد، در گزارش USAID حتی در یک جاي هم ذکر نه شده که یکی از پروگرام های آن از وجود فساد اداری رنج می برد.

به نوشتهء روزنامه، بعد از نشر گزارش USAIDدر سال ۲۰۰۹، نویسنده این مقاله تلاش کرد تا از مقامات USAIDدر مورد معلومات حاصل کند که چگونه امکان دارد که در هیچ یک از پروگرام های آن فساد وجود نه دارد، ولی هیچ گاه موفق نه شد تا از آنها پاسخ به دست بیاورد.

به نوشتهء وال استریت جورنال، دریافت کننده گان کمک های خارجی در مورد شرایط ادارات کمک رسانی خوب آگاهی دارند.

به نوشتهء روزنامه، حامد کرزی رییس جمهور افغانستان می داند که USAID باید بودجه خود را به هر شکل باید مصرف کند. کرزی خود تعهد خود را بر ضد فساد اداری نشان می دهد، ولی عمل نمی کند. با آن هم سرازیر شدن کمک ها جریان دارد.

آغا خان د کابل پوهنتون د ...

اختلاس او خیانت له امله ټول کابل پوهنتون وپلورل شي. ځکه هغه مهال به بیا چارواکي وایي چې موجود جایداد د کابل پوهنتون لپاره کفایت نه کوي.

که د کابل پوهنتون د استادانو د استوګنځیو موقعیت ته کتنه وکړو، نو دغه استوګنځي د کابل پوهنتون شمال لوري ته پراته دي چې ختیز لوري ته د کرنې او مالداری وزارت دی او لوېدیځ ته یې کوڅه ده او ورسره پیوسته کابل طبي پوهنتون.

د حکومتي چارواکیو سلا په دې راغلې ده چې دغه استوګنځي وران کړي او د پوهنتون استادانو ته قصبې په سیمه کې استوګنځي جوړ کړي. عجیبه ده، تیار موجود استوګنځي ورانوي او نور جوړوي. بیا له پوهنتون څخه څومره لرې، استادان چې له کاله تر پوهنتون پورې رسېږي نو یوه ورځ په تېره شوي وي.

د استاد ذهن به هم ګډوډ وي او دې ته به په ذهني ډول چمتو نه وي چې درس ورکړي.

که حکومت او چارواکي غواړي چې د زده کړې کچه په هېواد کې لوړه او معیاري شي، نو ښایي چې د استادانو سره مرسته وکړي، د استادانو لپاره موجودي استوګنځي پر ېږدي او تر څنګ یې نور جوړ کړي.

که د یوه معیاري پوهنتون لپاره ټولې اسانتیاوې په پام کې ونیسو نو اوسنی موجود جایداد د کابل پوهنتون لپاره کفایت نه کوي.

که د حکومت مشر ښاغلی کرزی خپله پوهنتون ته راشي او پوهنځیو ته سر ودنه کړي نو به ورته څرګنده شي چې استادانو او محصلین په څومره ناوړه شرایطو کې د زده کړې چارې پر مخ بیایي .

د کابل پوهنتون استادانو غږ پورته کړ خو څوک یې غږ نه اوري چې دغه سیمه د ډپلوماتیکو چارو لپاره مناسبه نه ده او نه هم د روغتیایي چارو د ودانۍ لپاره. ځکه وار له مخه دلته د اکامیت روغتون، اتاترک کوچنیانو روغتون، د فرانسیونانو (آغاخان) د کوچنیانو روغتون، علي اباد روغتون او د سره صلیب د هډوکي او مصنوعي پښو جوړولو روغتونونه موجود دي. دا ټول نښتي او پیوسته جوړ شوي دي او د خلکو ستونزې اواروليشي.

په پای کې بیا هم د نفوس په زیاتېدو او ورسره جوخت د محصلینو د شمېره په زیاتېدو به په نږدې راتلونکي کې اوس پوهنتون د زده کوونکي لپاره کفایت و نه کړي نو په هغه صورت کې به د پوهنتون لپاره نور جایداد ته هم اړتیا ده، هیله ده چارواکي دغه ټکي په پام کې ونیسي او د استادانو موجود استوګنځي ځای پر ځای پر ېږدي او تر څنګ یې نور هم ورسره جوړ کړي.

امریکا د خصوصي امنیتي کمپنیو ...

د امریکایي مطبوعاتو له راپوروتو سره سم په افغانستان کې د امریکایي ځواکونولپاره د مهماتو او نورو اکمالاتو د اکترو کاروانونو امنیت هغه امنیتي کمپنۍ په غاړه لري چې د دفاع وزیرله زوی او د کرزي له ورونو سره تعلق لري.امریکایي مقاماتو پخوا په دې اندېښنه ښکاره کړې وه چې دا کمپنۍ وسله والو طالبانو ته په ملیونونو ډالره باج ورکوي چې د دوی پر کاروانونو برید ونه کړي.

ځینې نورې شخصي امنیتي کمپنۍ ،چې د بېلابېلو موسسو او کسانو امنیت ساتي، د جنرال جرات په شان د شورای نظارله قومندانانو سره تړاو لري.

کرزي د ولسمشرۍ د دوهمې دورې د لوړې د مراسمو په وینا کې ویلي وو چې کورنۍ او بهرنۍ شخصي امنیتي کمپنۍ به په دوو کلونو کې بندې کړي.

د نړیوالو قواوو د نوي ضربتي ځواک مشرې برید جنرالي مارګرېټ بور وویل : "موږ د افغانستان له حکومت سره د دې فیصلې د عملي کولو په برخه کې همکاري کووڅو نظم ښه شي."

برید جنرالي بور کوم وخت ونه ټاکه چې کله به له خصوصي امنیتي کمپنیو سره قراردادونه فسخه کړي خو ویې ویل چې دا کمپنۍ به هغه مهال منحل شي چې امنیتي حالات ښه شي.

د دې خبرې مانا دا ده چې تر ډېرې مودې پورې به دوی پر خصوصي امنیتي کمپنیو اتکا کوي ځکه چې عملاً امنیتي حالات مخ په ښه کېدو نه بلکې لا خرابېدو دي.

برید جنرال بور وایي په افغانستان کې د امریکایانو لپاره شاوخوا ۲۶ زره شخصي امنیتي ځواکونه کار کوي چې د هغو په منځ کې نولس زره د امریکا له پوځ سره په کار بوخت دي.

د اسوشیتید پریس خبري اژانس د راپور له مخې د ناټو ځواکونو یوه ویاند جګړن جول هارپر وویل چې ځینې خصوصي امنیتي کمپنۍ د کاروانونو امنیت ساتي، خو ځینې نورې د اډو او مرکزونو امنیت په غاړه لري.

ولسمشر کرزی وایي چې د دغو چارو مسوولیت دې د افغانستان ملي اردو او ملي پولیسو ته وسپارل شي. خو برید جنراله بور وایي چې د افغانستان امنیتي ځواکونه لا هغه پړاو ته نه دي رسېدلي چې د ټولو امنیتي چارو مسوولیت په غاړه واخلي.